UNAMA
د بشري حقونو خدمتونه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**وسله واله شخړه د افغان ملکيانو د پاره اوس هم مرګونې ده - يوناما د ۲۰۱۷ کال د لومړيو نهو مياشتو لپاره د ملکي تلفاتو شمېرې خپروي**

لکه څرنګه چې نن ورخ خپاره شوي ارقام ښيي چې په وسله واله شخړه کې د وژل شويو ملکي تلفاتو شمېر د ۲۰۱۶ کال سره په سمون کې دي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) په شخړه کې د ښکېلو اړخونو څخه غوښتنه کوي چې ملکي وګړو ته د زيان اوښتو څخه د خوندي ساتلو په هکله خپلې هڅې لا غښتلې کړي.
يوناما د ۲۰۱۷ کال د جنوري د لومړۍ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې ټول ټال ۸۰۱۹ ملکي تلفات (۲۶۴۰ مړه او ۵۳۷۹ ټپيان) مستند کړي، چې په ټوليز ډول دا د ۲۰۱۶ د ورته مودې په پرتله ملکي تلفاتو کې شپږ سلنه کموالی په ډاګه کوي. په داسې حال کې چې د ملکي کسانو مړينه يوه سلنه زياته شوې خو د ټپي شويو ملکي وګړو شمير بيا نهه سلنه راکمه شوې.




په داسې حال کې چې ځمکني نښتې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل پاتې شوې، ځانمرګو بريدونو، ډله ييزو بريدونو او ځای پر ځای شويو چاودېدونکو توکو افغان ملکيانو ته زيات تلفات واړول، په دې کې هغه کسان چې کابل، هلمند، ننګرهار، کندهار او فراه ولايتونو کې اوسېدل، تر ټول زيات تلفات اوښتي دي.
يوناما په وسله واله شخړه کې د ټپي شويو ملکي کسانو په برخه کې د شمير د راټيټېدلو هرکلی کوي، خو په دې اړه ژوره انديښمنه ده چې د ملکي وګړو د مړينې شمير لا تر اوسه هم زيات دی. د ۲۰۱۷ کال په لومړيو نهو مياشتو کې ځانمرګي او ډله ييز بريدونه ، هدفي او عمدي وژنې، فشاري چاوديدونکي توکي او هوايي بريدونه د زيات شمير ملکي تلفاتو لامل شوي دي.




**د ځمکنیو نښتو په پایله د ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی**

د ملکي تلفاتو په برخه کې شپږ سلنه تولیز کموالی په لومړي سر کې د دولت ضد عناصرو سره د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولت پلوه ځواکونو له خوا د وژل شویو او ټپي شویو ملکي کسانو په شمېر کې د پام وړ کموالي له امله را منځ ته شوی. یوناما د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله د شخړې د ټولو خواوو تر منځ د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۵ سلنه کموالی ثبت کړی.

دولت پلوه ځواکونو ته د ځمکنیو نښتو پر مهال منسوب شوي ملکي تلفات ۳۷ سلنه ته را ټیټ شوي چې ۸۴۹ ملکي تلفات کیږي (۲۲۸ مړیني او۶۲۱ ټپیان)، په داسې حال کې چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۷ سلنه زیات شوي چې۱۱۵۰(۲۵۵ مړیني او ۸۹۵ ټپیان) ملکي تلفات دی، او د زیاتوالی لامل یې د سپکو وسلو د ډزو په نتیجه کې د زیات شمیر ملکی وګړو مرګ او ژوبله ده. پاته ملکي تلفات د ډزو د تبادلې په پایله کې را منځ ته شوي چېرې چې یوناما و نه شو کولای کوم خاص مرتکب په ګوته کړي.

یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د ملکي تلفاتو د راکمولو په برخه کې په ځانګړي ډول په شمال ختیځ کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ترسره شویو هڅو ستاینه کوي، خو یادونه کوي چې د شخړې داینامیکونه، په خاص ډول په جنوبي سیمه کې چېرې چې د جګړې لومړي کرښې نسبتاً ثابتې پاتې شوي او کېدای دغو داینامیکونو له دغه تمایل سره مرسته کړې وي. یوناما په لغمان، فاریاب او فراه ولایتونو کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زیاتوالی مستند کړی.

**ښځې او ماشومان**

د ملکي تلفاتو په برخه کې د ټولیز کموالی سربېره، ملکیانو ته د زیان د اوښتو د مخنیوي لپاره د مناسبو احتیاطي تدبیرونو په نیولو کې په شخړه کې د ښکیلو خواوو له خوا پاته راتلل، په لوړه کچه د ښځو او ماشومانو تلفات څرګندوي او په ځانګړی توګه مړینه کې زیاتوالی څرګندوي.

د یوناما د ۲۰۱۷ کال په لومړیو نهو میاشتو کې ټول ټال ۱۰۰۷ ښځینه ملکي تلفات (۲۹۸ مړیني او ۷۰۹ ټپیان) مستند کړي دي چې په ټولیز ډول ښځینه تلفاتو په برخه کې ۱۳ سلنه زیاتوالی ښیي. وسله واله شخړه د ۲۴۸۰ ماشومانو د تلفاتو (۶۸۹ مړیني او ۱۷۹۱ ټپیان) لامل شوې چې دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۱ سلنه ټولیز کموالی، او د ماشومانو د مړیني په برخه کې پنځه سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. په داسې حال کې چې د ځمکنیو نښتو پر مهال کمې ښځې او ماشومان وژل شوي او ټپي شوې، خوماموریت (یوناما) د ځانمرګي، ډله ییزو او هوایي بریدونو په نتیجه کې د ښځو او ماشومانو د تلفاتو په برخه کې زیاتوالی مستند کړی. د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو په نتیجه کې هم د ماشومانو تلفات زیات شوي دي.

**دولت ضد عناصر**

یوناما په اندیښنې سره یادونه کوي چې دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو د شمیر کچه لوړه پاتې شوي او په دې کې هغه بریدونه هم شامل دي چې ملکیان یې په نښه کړی دي. دولت ضد عناصرو د ۲۰۱۷ کال د لومړیو نهو میاشتو پر مهال د ۵۱۶۷ ملکي تلفاتو (۱۷۶۰ مړیني او ۳۴۰۷ ټپیان) لامل شوي، چې دا د تېر کال د ورته مودې په پرتله،۱سلنه کموالی ښیي. د دغو ملکي تلفاتو له جملې څخه یوناما ۶۶ سلنه طالبانو ته،۱۰ سلنه داعش ته او پاتې ناپیژاندو دولت ضد عناصرو او هغو جنګیالیو ته چې ځان داعش معرفي کوي، منسوب کړي.

دولت ضد عناصرو د ملکي کسانو په قصدي ډلو هدف ګرځولو ته دوام ورکړی او په بریدونو کې په عمدي توګه یو لړ تاکتیکونه کارول چې ښایي د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي. یواځې هغه بریدونه چې جوماتونواو مذهبي مراسمو ته د تلو پر مهال د شیعه وګړو پر وړاندې ترسره شوي وو، د ۲۷۸ ملکي تلفاتو (۸۴ مړیني او ۱۹۴ ټپیان) لامل شوي، چې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په نتیجه کې د ښځو د مرګ او ژوبلې زیاتیدو لامل ګرځیدلی.

یوناما همدارنګه د دیني مشرانو، د هغو ملکي کسانو چې د دولت یا افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړو ګومان پرې کېده، د ملکي دولتي کارکوونکو او قضائي او د عدلي تعقیب په چارو کې د ښکیلو کسانو په وړاندې د پرله پسې بریدونو او عمدي وژنو بوګونکي جریانات مستند کړي دي.

د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د ګډو تاکتیکونو د کارولو په پایله کې (ځای پر ځای شوی چاودېدونکي توکي او ځانمرګي او ډله ییز بریدونه) د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۷ سلني - ۲۹۸۷ ملکي تلفات (۸۸۰ مړیني او ۲۱۰۷ ټپیان) مسئول دي. که څه هم د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په نتیجه په ټوله کې ملکي تلفات په ټولیز ډول څلور سلنه راټیټ شوي خو د ملکي کسانو مړینه ۱۳ سلنه لوړه شوې. په داسې حال کې چې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د چولو په نتیجه کې ملکي تلفات اته سلنه کم شوي او د ملکي کسانو مړینه یوازې یوه سلنه کمه شوې.

د دولت ضد عناصرو له خوا په هغو سړکونو چې د ملکیانو له خوا کارول کېږي د بې توپیره او ناقانونه فشاري الو د دوامدارو کارولو له امله ۸۰۳ ملکي تلفات (۳۷۱ مړیني او ۴۳۲ ټپیان) را منځ ته شوي چې د تېر کال تلفاتو ته ورته دي، د دغو الو د کارولو په نتیجه کې د ملکي وګړو د مړینو په شمیر کې ۱۱ سلنه زیاتوالی راغلی. د دغو فشاري الو د چولو په پایله کې د ماشومانو تلفات د ټولو ملکي تلفاتو یوه پر دریمه برخه جوړې.

یوناما په ځانګړی ډول د هدفي او عمدي وژنو په پایله کې د ملکي تلفاتو د زیاتېدونکي شمیر په اړه اندیښمنه ده. د دغو تاکتیکونو په نتیجه کې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۱۳ سلنه – چې ۸۶۹ ملکي تلفات کیږي (۵۳۰ مړیني او ۳۳۹ ټپیان) لوړ شوي، چې دا د ملکي مړینو په برخه کې ۳۳ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

**دولت پلوه عناصر**

دولت پلوه عناصرو ته د منسوب شويو ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۹ سلنه - ۱۵۷۸ ملکي تلفات (۵۶۰ مړيني او ۱۰۱۸ ټپيان) کموالی راغلی، چې له نيمايي زياتره يې د ځمکنی نښتې پر مهال را منځ ته شوي. د دغه ټوليز کموالی سربېره، يوناما د هوايي بريدونو په نتيجه کې په خاص ډول د ښځو او ماشومانو په منځ کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د دوامداره زياتوالی په اړه خپله اندېښنه بيا تکراروي. يوناما د ۲۰۱۷ کال د لومړيو نهو مياشتو په ترڅ کې ټول ټال ۴۶۶ ملکي تلفات (۲۰۵ مړيني او ۲۶۱ ټپيان) مستند کړي، چې دا د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله د هوايي بريدونو په نتيجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۵۲ سلنه زياتوالی ښيي. ښځې او ماشومان د هوايي بريدونو په پايله کې د را منځ ته شويو ملکي تلفاتو دوه پر دريمه - ٪۶۸ جوړوي. يوناما د هوايي بريدونو په نتيجه کې ۳۸ سلنه ملکي تلفات د نړيوالو ځواکونو هوايي بريدونو ته منسوب کړي.

يوناما د افغانستان د دولت د دوامدارې ژمنې هرکلی کوي چې موخه يې د ملکي تلفاتو را کمول دی، د هغوی د عملياتو له امله کم ملکي تلفات او مړينه را منځ ته شوي او ورسره هغه تدبيرونو نيول شوي چې موخه يې د زيان اوښتو د کچې راکمول دي. په اکتوبر کې د افغانستان دولت د ملکي تلفاتو د مخنيوي او را کمولو په هکله ملي پاليسي په رسمي توګه تصويب کړه.

تداميچي يماموتو وويل: "د افغانستان دولت بايد خپلو خلکو، په خاص ډول د وسله والې شخړې قربانيانو ته داډ ورکړي چې د يوه رښتيني عمل پلان له لارې دغه ملي پاليسي په بشپړه توګه پلي کوي." هغه زياته کړه "دولت بايد د ملکي تلفاتو د بې طرفه څېړنې او په سيستماتيک ډول د ملکي تلفاتو د ثبتولو څخه ډاډ حاصل کړي، او دا چې دولت د قانون له مخې مکلف دی چې د ملکي تلفاتو د هر ډول پېښو د خپلواکې څېړنې څخه ډاډ حاصل کړي، کوم چې ممکن د بشرپالنې د نړيوال قانون لاندې د جدي سرغړونو په کتار کې راشي."

د اګست په لومړيو کې د افغانستان دولت په رسمي ډول د ۱۹۸۰ کال د ځينو دوديزو وسلو کنوانسيون ( Convention on Certain Conventional Weapons) ۵ پروتوکول تصويب کړ چې د جګړې څخه د پاتې شويو چاودېدونکو توکو په اړه دي.

د ۲۰۱۷ کال د لومړيو نهو مياشتو په ترڅ کې - ناچاودو توکو ټول ټال ۱۳۴ ملکي کسان وژلي او ۳۷۸ نور يې ټپيان کړي - چې زياتره يې ماشومان دي.

د يوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې ډانيل بِل وويل " د دغه پروتوکول له تطبيق سره چې د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې به مرعي الاجراء شي، په راتلونکې کې له زيات شمير ورته او د مخنيوي وړ تلفاتو څخه مخنيوی وشي."




د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما کلني او شپږ میاشتني راپورونو ته مراجعه وکړئ، کوم چې په افغانستان کې پر ملکي وګړو باندې د شخړې منفي اغیزې مستند کوي او د ملکي وګړو او ملکي تولنو د خوندیتوب په اړه سپارښتنې رانغاړي. (په لاندې بریښنایي پته د لاسرسي وړ دي http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports () د راتلونکی بشپړ راپور خپرېدل د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې د تمې وړ دي چې د ۲۰۱۷ کال د جنوري ۱ د لومړۍ تر دسمبر ۳۱ موده رانغاړي.